بسمل

۰۶ نومبر ۲۰۱۱

## اخترونه او وياړونه

له اختره ګيله من يو ګيله نه کوو له ځانه
هرزياتی له موږه شوی يو خوابدي  له اسمانه

داپه بده ورځ چي سر يو نتيجه مو داعمالو
پند مو نه واخيست  هيڅکله  له  رېښي رېښي ګرېوانه

پخپل لاس مو زولني ځان ته کړي جوړي دا موحال دی
هره خوا دېوال دېوال دی وتی نه شو له زندانه

چي په جوش راشو خپل هوش ورکړو  ونورو ته په لاس کي
په يو څو باتو تېروزو خالي لاس ځو له ميدانه

هر چنار لمبه لمبه شو هرمنګی توکړي توکړي شو
دګلرنګي دپېزوان پرک نه را رسي له دالانه

هم په پټه  هم ښکاره مو اغيار راووست خپل کاله ته
په لوی لاس موخپل واک ورکړ شولو پاتي له کاروانه

پخپل ځان کي مو يوه زره احساس دنېکي نشته
سر وهو په ځمکه ځمکه هر څه غواړو له يزدانه

ځيني شوق اخيستي حوري او غلمان غواړي چي خپل کړي
ناجايزي لاري نيسي ناخبر له سود اوزيانه

نو په کوم انصاف دا خپله پړه په اختر خواره کي بار کړو
موږ پخپله خپل باغ سوی ارمانجن ځو له بوستانه

دا وحشت او دا ذلت به لا تر څو خپور وي بسمله
اخترونه او وياړونه يي ولجه کړل له افغانه